بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

## ستره محکمه

### د دارالانشاء عمومي ریاست

### د تحریراتو آمریت

### د متحدالمآلونو څانګه

تاریخ: ۱۸- محرم الحرام - ۱۴۴۶ هق
مصادف: ۳- اسد- ۱۴۰۳ هش

متحدالمآل نمبر: ۱

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☑ معلوماتي ☐ تعقیبي ☐ سایر ☐

---

د سترې محکمې د تمیزونو، ریاستونو او محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

وبعد: د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست د مشرتابه محترم عالي مقام څخه داسې استهداء کړې وه: "هغه متهمین چې د کشفي او استخباراتي ارګانو لخوا نیول کیږي د مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان نمبر (۲۹) مورخ ۱۴۴۳/۸/۱۲ هق مطابق د احتیاطي تدابیرو په خاطر تر لسو ورځو پورې د نظارت لاندې نیول کیږي، آیا کشفي او استخباراتي مراجع د یادو متهمینو د عدم الزام په صورت کې د محکمې د حکم څخه پرته د خوشې کولو صلاحیت لري او که نه؟ په اړه یې مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۵۸۱۰) مورخ ۱۴۴۵/۱۱/۲۷هق په توسط داسې هدایت کړی دی: "هر څوک چې ونیول سي، هغه دي محکمې ته وړاندې کیږی او د هغوی په امر دي خلاصیږي، ځکه چې که بندي مجرم ثابت نه سي نو محکمه ابراء خط ورکوي."

د یاد حکم په اړه د سترې محکمې محترم مقام داسې هدایت وکړ: " د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۵۸۱۰) مورخ ۱۴۴۵/۱۱/۲۷هق مصادف ۱۴۰۳/۳/۱۶هش دې په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستول شي."

بناء پورته هدایت ددې متحدالمآل په توسط تاسو ته د اصولي کړنو په موخه واستول شو.

والسلام

۱۸ ۱ ۱۴۴۶ هق

مفتي عبدالرشید "سعید"

د سترې محکمې

د دارالانشاء عمومي رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

---

آدرس: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
د اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
برېښنالیک: darulinsha@gmail.com
ویب پاڼه: www.supremecourt.gov.af

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202300092
Post box: 1989
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af